شمنی SHTAMANAI
اوونیزه

مـوږ د اسـلامي امـارت ټولـو مسـؤلینو تـه د اللـه تعالـی لـه دربـار څخـه توفیـق غـواړو، چـي لـه خپلـو او ستاسـو غونـدي ځوانانـو لـه اسـتعدادونو څخـه د هیـواد پـه جوړونـه کـي ګټـه واخـلي، د مالیـې وزارت سـتونزي حـل کـړي، مسـلکي اداره رامنځتـه کـړي او ګـران افغانسـتان تـه پرمختـګ ورکـړي.

د مالیې وزیر الحاج ملا محمد ناصر اخند

امارت اسلامی افغانستان

چهارشنبه |د محرم الحرام ۲۹-۱۴۴۵/د زمري ۲۵-۱۴۰۲/د اګست ۱۶-۲۰۲۳/دوهم کال / ۶۱ ګڼه/ ٤ مخیز ۱

د انټرکانټیننټال دولتي شرکت د ارزوني ناسته ترسره سوه



د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه (امیر المؤمنین حفظه الله) له لوري د دولتي شرکتونو د وضعیت ارزوني په موخه د مولوي احمد جان بلال په مشرۍ د ټاکل سوي کمیټې د غړو او د انټرکانټیننټال دولتي شرکت د مسؤلینو ترمنځ د یاد شرکت د ارزوني غونډه په مالیې وزارت کي ترسره سوه. په دغه غونډه کي د مالیې وزارت اړوند (انټرکانټیننټال دولتي شرکت) د عمومي وضعیت، اداري جوړښت، خدماتو، مالي وضعیت او فعالیتونو په ټراو هر اړخیز معلومات وړاندي سول او تر څنګ ئې د یو لړ شته ستونزو او محدودیتونو یادونه هم وسوه، چې د غونډې د ګډونوالو او کارپوهانو له لوري د ستونزو د حل او د یاد شرکت د وضعیت د لا ښه والي په موخه وړاندیزونه او د حل لاري وړاندي سوې. په پای کي د کمیټې د غړو له لوري ټینګار وسو، ترڅو د یاد شرکت د غیر ضروري لګښتونو دقیقه ارزونه وسي او د مخنیوي په موخه ئې اړین اقدامات ترسره سي.

د مالیې وزارت د حکم پر بنسټ یو شمېر ولایتونو ته نوي مستوفیان ور وپېژندل سول



د افغانستان اسلامي امارت د مالیې وزارت د ځانګړي حکم پر بنسټ، کار اهل د کار ته د سپارلو، له مسلکي کادرونو څخه په ښلابیلو موقفونو کي د اغېزمني ګټې اخیستني په موخه د مالیې وزارت د عوایدو لوی رئیس ښاغلي الحاج شهر محمد مشفق له خوا د بلخ، پروان، پکتیا، غزني، لغمان او ننګرهار ولایتونو لپاره نوي مستوفیان د دغه ولایتونو والیانو او اړوندو کارکوونکو ته ور وپېژندل سول. د پېژندغونډو پر مهال د مالیې وزارت د عوایدو لوی رئیس ښاغلي مولوي شهر محمد مشفق ګډونوالو ته یادونه وکړه، چې ولایتونو ته مستوفیان د مالیې وزارت د حکم او لزوم دید پر بنسټ ټاکل کېږي، تغییر او تبدیل هغه اصل دی، چې تجربې شریکي او نوښتونه رامنځته کېږي. نوموړي د یادو ولایتونو له مخکښو مستوفیانو څخه مننه وکړه، چې په خپلو کاري مودو کي ئې غوره خدمات وړاندي کړي او د ملي عوایدو په راټولولو کي ئې چټګ ګامونه پورته کړي دي. همدا راز ئې نویو مستوفیانو ته په ور سپارل سوو چارو کي د لا بریا او ښو خدمتونو وړاندي کولو غوښتنه وکړه. د یادوني وړ ده، چې ښاغلی مفتي کفایت الله د غزني ولایت، ښاغلی منصورالحق ذاکر د بلخ ولایت، ښاغلی مولوي عبدالوهاب د پروان ولایت، ښاغلی ضیاء الحق عثمان د پکتیا ولایت، ښاغلی مولوي محمد فاروق انصاري د لغمان ولایت او ښاغلی عصمت الله سلیمي د ننګرهار ولایت مستوفیتونو ته د مستوفیانو په توګه ور وپېژندل سول.

د اوبو رسولو او فاضلابو دولتي شرکت د ارزوني ناسته ترسره سوه

د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) له لوري د مولوي احمد جان بلال په مشرۍ د دولتي شرکتونو د وضعیت ارزوني په موخه د جوړې سوي کمیټې د غړو او د مالیې وزارت اړوند د اوبو رسولو او فاضلابو دولتي شرکت د مسؤلینو ترمنځ د دغه شرکت د وضعیت ارزوني ناسته په مالیې وزارت کي ترسره سوه. په پیل کي د اوبو رسولو او فاضلابو دولتي شرکت اړوند، د تشکیلاتي جوړښت، فعالیتونو، خدمتونو، مهمو پروژو، د طرحو او پلانونو په ټراو تولیز معلومات وړاندي سول او د شرکت د چارو په چارو د لا ښه والي په موخه ستونزو ته د حل مناسبي لاري چاري وړاندي سوې. په ټوله کي د یاد شرکت وضعیت ښه وبلل سو او ټینګار پر دې وسو، چې موجودو ستونزو ته باید په سمه توګه رسېدنه وسي، تر څو شرکت وکولای سي، خپل راتلونکي پلانونه او مهمي پروژې په ښه توګه عملي کړي، چې ورسره په ملي کچه د پاکو اوبو د کمښت په برخه کي د ولسونو ستونزو ته پر وخت رسېدنه وسي.

مخ کي د پرتو ستونزو او ننګونو یادونه وسوه، چې د اړونډ برخي د کارپوهانو او د کمیټې د غړو له لوري د شرکت د

سرمقاله

نگاه اجمالی بر اصلاح شرکت های دولتی در دو سال پسین

طوریکه معلوم است اصلاح ساختاری و مدیریت شرکت های دولتی، در واقع نخستین قدم بزرگ در راستای تحول مثبت در اقتصادی ملی و سروسامان بخشیدن بر وضعیت رشد اقتصادی و توسعه پایدار مالی کشور است. با نگاهی مختصر بر عملکرد شرکت های دولتی درمیابیم که شرکت ها بیش از نیم بودجهٔ کشور را تمویل می نمودند ولی در سال های اخیر به دلیل نبود استراتیژی مشخص در این بخش، نقش شرکت ها در اقتصادی ملی از پنجاه درصد به یک درصد افت کرد. با به میان آمدن تحولات سیاسی در دو سال پسین، هم اکنون ریاست عمومی شرکت های دولتی به عنوان دارالانشای هیئت نظارت شرکت های دولتی به منظور پاسخگوسازی شرکت های دولتی در تناسب به نیازمندی ها و مقتضیات نظام مالی کشور، بالای برنامه اصلاحی با تمرکز روی معیاری سازی ساختار تشکیلاتی و اصلاح امور، برای به منفعت آمدن شرکت های دولتی و اصلاح مدیریت آنها تحت چتر وزارت مالیه فعالیت می نماید. در دو سال پسین هیئت رهبری ریاست عمومی شرکت های دولتی در همکاری و هماهنگی با رهبری وزارت مالیه سیاست های حمایتی از شرکت ها را مورد غور و مداقه قرار داده و فعالیت دوباره شرکت ها را با توجه به نظارت خوبتر، هماهنگی بهتر و مشوره دهی بیشتر از سر گرفته است. هم اکنون که از میان (۴۲) شرکت و (۱) تصدی دولتی (۳۲) شرکت تحت چتر وزارت مالیه مستقیماً فعالیت می نماید، در کمتر از دوسال حدود (۱۲) شرکت دولتی به فعالیت آغاز نموده است و تولیدات شان به بازار عرضه می شود که یک گام مهم و یک دستارود بزرگ به سطح دولت به حساب می رود، که رویکرد حمایتی و پالیسی نظارتی هیئت رهبری ریاست عمومی شرکت های دولتی در فعالیت مجدد شرکت ها نقش به سزا داشته است. علاوتاً از میان (۳۲) شرکتی که هم اکنون به صورت مستقیم تحت چتر مدیریتی وزارت مالیه فعالیت دارند، ۸ شرکت فعالیت اساسی ندارد و مصارف و معاشات کارکنان شانرا از طریق فعالیت های غیر تجارتی مانند به کرایه سپردن جایدادهای مازاد ضرورت خویش تأمین می گردد. بخش تجارتی ریاست عمومی شرکت های دولتی روی طرح های اصلاحی کار نموده است که با اجرایی کردن آن قرار است که از میان (۸) شرکت غیر فعال (۵) شرکت آن در آینده های نزدیک دوباره به فعالیت آغاز نمایند. افزون بر آن مطابق دیدگاه بزرگ دولت افغانستان، شرکت های دولتی که فعالیت آن مطابق به نیازمندی های عصر جدید نباشند و سهم قابل ملاحظه ای در رشد اقتصادی کشور نداشته باشند جواز فعالیت شان لغو گردیده و منحل می شوند. از ابتدای تحولات تا اکنون ریاست عمومی شرکت های دولتی بر مبنای این پالیسی فعالیت شرکت های دولتی صنایع محابس، شرکت دولتی میوه کندهار و شرکت هوایی باختر را متوقف نموده و (۳) شرکت نامبرده را منحل کرد. همچنان بخش تجارتی برنامه های جامع را روی دست دارد تا بر اساس دیدگاه کلان هیئت رهبری ریاست عمومی شرکت های دولتی، تمام شرکت ها را به صورت تدریجی احیا و مجدداً از طریق و شیوه های مدیریت مرکزی و همکاری وزارت مالیه با پشتوانه مکمل دولت و سکتور خصوصی به رشد پایدار مالی و اشتغال زایی و خود کفایی مالی نقش بزرگ خویش را بر مبنای اقتصاد اسلامی گام های موثر را تعقیب نمایند. در این راستا از قانون تصدیها و قانون شرکت های دولتی که فعلاً نافذ بوده، استفاده خواهد گردید دولت می تواند سایر شرکتها و تصدیها را مطابق به ضرورت های جامعه و رشد اقتصادی به شیوه سهل (تدارک سرمایه) ایجاد نماید. به عنوان جمع بندی نهایی باید گفت که وضعیت و سرنوشت شرکت های دولتی امروز با سیاست های حمایتی دولت گره خورده است، طوریکه معلوم است شرکت های دولتی بخش قابل توجهی از بودجه سالانه کشور را به خود اختصاص می دهند. تقویت این شرکت ها جداً از اینکه بودجه جاری ملی کشور را تقویت می نماید، بار دوش مالی دولت را کاهش داده و باعث از بین رفتن انحصار در بازار گردیده و عامل ایجاد فضای کار و رقابت با سکتور خصوصی می شود و مارکیت را در تنظیم نرخ های بازار کمک می نماید.

با احترام

اداره



د صکوکو مطبعې او ضرابخانې دولتي شرکت ارزونه وسوه

۴



برنامه آموزشی- عقیدتی برای محصلان ممتاز پوهنتون های برتر برگزار گردید

۴




فساد در ریاست خدمات مالیه دهندگان تقریباً به صفر رسیده است

۴



په تورخم ګمرک کي د دوه کیلو ګرامه قیمتي ډبرو له قاچاق څخه مخنیوی وسو

۲



په مالي بنسټونو کي د عملیاتي خطرونو پېژندنه!

۳



شماره	جنس	وزن به تن	ارزش گمرکی به میلیون افغانی	کشور
۱	زغال سنگ	۲۸،۸۹۶	۲۸۰	پاکستان و هند
۲	بادنجان رومی	۱۱،۳۰۱	۱۶۳	پاکستان
۳	انگور تازه	۳،۸۰۶	۱۹۶	پاکستان ، فراقستان و هند
۴	باسرتکت	۳،۸۷۲	۳۱	پاکستان
۵	سنگ تاتکت	۳،۵۵۳	۱۲	ترکمنستان ، ایران و پاکستان
۶	پخته وطنی	۱،۵۷۳	۱۴۷	پاکستان و ایران
۷	کنجاره سویابین	۱،۴۳۳	۴۲	پاکستان
۸	زردآلو	۱،۳۱۰	۵۵	پاکستان ، فراقستان و هند
۹	خربوزه	۱،۲۶۳	۲۹	پاکستان و هند
۱۰	سنگ کرومایت	۱،۱۵۶	۱۳	پاکستان
تعداد محموله و ارزش گمرکی مجموعی از تاریخ ۷ الی ۱۳ اسد به اساس سیستم اسیکودا:				
تعداد محموله		ارزش گمرکی به میلیون افغانی		
۲۵۵۳		۲۳۹۹		

صادرات اقلام عمده در هفته گذشته از گمرکات

۴


شمنی SHTAMANAI
اوونیزه

د صکوکو مطبعې او ضرابخانې دولتي شرکت ارزونه وسوه



د مولوي احمد جان بلال په مشرۍ د دولتي شرکتونو د وضعيت ارزوني په موخه د ټاکل سوي کمېټې له لوري د مالیې وزارت اړوند د صکوکو مطبعې او ضرابخانې دولتي شرکت د ارزوني غونډه په مالیې وزارت کې ترسره سوه. په دې غونډه کې د صکوکو مطبعې او ضرابخانې دولتي شرکت د فعالیتونو، تولیداتو، مالي وضعیت، لګښتونو، طرحو او پلانونو په تړاو معلومات وړاندې سول او د یاد شرکت د ستونزو په برخه کې د یو مناسب معیاري تعمیر د نشتون او د تدارکاتي پروسې د پېچلتیا ستونزې هم یادې سوې. د کمېټې د غړو او کارپوهانو له لورې د شرکت د چارو ارزښت ته په کتو، د شرکت د ټولیز ظرفیت د لوړولو په موخه د ستونزو د حل لپاره نظرونه او وړاندیزونه وړاندې سول. همدا راز ټینګار وسو، چې شرکت باید ټولې دولتي اداري وهڅوي تر څو خپل ټول بهادار او مصؤن اسناد په دغه شرکت کې چاپ کړي، چې ورسره به د دغه شرکت فعالیتونه پراختیا وموميي او هم به په هیواد کې د چاپې صنعت ودې ته زمینه برابره سي.

جلسه هماهنگی به منظور ترتیب پالیسی وزارت مالیه دایر گردید



اولین جلسه هماهنگی حسب هدایات مقامات ذیصلاح مبنی بر ترتیب پالیسی داخلی وزارت مالیه، به اشتراک رؤساء و آمرین مسلکی ذیربط با حضورداشت مشاور مقام وزارت، در اتاق جلسات معینیت پالیسی وزارت مالیه دایرگردید. در این نشست محترم مطیع الله مجددی سرپرست ریاست عمومی هماهنگی، نظارت و گزارشدهی معینیت پالیسی روی چگونگی طرح و تدوین پالیسی جامع و نیز پیرامون هدایات مقامات ذیصلاح به اشتراک کنندگان معلومات ارایه نمودند. سپس در رابطه به موضوع بحث صورت گرفت و تصامیم لازم در زمینه اتخاذ گردید.

په تورخم ګمرک کې د دوه کیلو ګرامه قیمتي ډبرو له قاچاق څخه مخنیوی وسو




د تورخم ګمرک د صادراتو خانګې کارکوونکو په یوه خالي بار وړونکي موټر کې دوه کیلو ګرامه بېلابېل ډوله قیمتي ډبري چې هڅه کېده له هیواد څخه پاکستان ته و لېږدول سي، کشف او ضبط کړې. د یادوني وړ ده، چې له دې وړاندې هم په یاد ګمرک کې د بېلابیلو ممنوعه او قاچاقي توکو له وارداتو او صادراتو څخه مخنیوی سوی او عاملین ئې اړوندو ارګانونو ته ور پېژندل سوي دي.

د ګمرکونو لوی ریاست اداري ناسته ترسره سوه



د ګمرکونو لوی ریاست د روان مالي کال ۱۱مه اداري ناسته د ګمرکونو د لوی رئیس ښاغلي الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د ګمرکونو تخنیکي او عملیاتي مرستیالانو، رئیسانو او یو شمېر آمرینو په ګډون د یاد ریاست په مقام کې ترسره سوه. په دې ناسته کې د ورځنیو اړوندو چارو په لا ښه والي، د ولایتي ګمرکونو پر ستونزو او حل لارو، په ګمرکونو کې د سوداګرو ستونزو ته په رسېدني، د افغانستان له خاوري د بهرني ترانزیټ د لا زیاتوالي په لارو چارو او یو شمېر نورو اړوندو مسایلو هر اړخیزې خبرې او اړیني پریکړې وسوې.

جلسه ترفیعی ۲۰ تن از منسوبین ریاست عمومی گمرک و محصلان ممتاز برگزار گردید



برنامه آموزشی- عقیدتی برای محصلان ممتاز پوهنتون های برتر که امتحان استخدام در وزارت مالیه را مؤفقانه سپری کرده اند، طی مراسمی در تالار احمد شاه ابدالی اکادمی ملی گمرکات دایر گردید. در این مراسم، مولوی احمد شاه شاکر رئیس منابع بشری وزارت مالیه، مولوی عتیق الله کریمی رئیس تدارکات، بلال احمد احدی آمر اکادمی ملی عواید و گمرکات و شماری از محصلان اشتراک داشتند. مولوی احمد شاه شاکر، رئیس منابع بشری در سخنان افتتاحیه این برنامه، سپری کردن مؤفقانه امتحان استخدام در وزارت مالیه را به اشتراک کنندگان تبریک عرض نموده گفت، وزارت مالیه ا.ا.ا در یک اقدام بی نظیر شما نخبگان جامعه را که امتحانات متعددی را مؤفقانه سپری کرده اید، طی یک پروسه کاملاً شفاف و فارغ از هرگونه تعصب سمتی، قومی و لسانی جهت خدمت به نظام و مردم انتخاب کرده و به استعداد و توانایی شما باورمند است. شما سرمایه این ملت هستید و سرنوشت ملت و نظام به دست شماست تا آینده درخشان را برای آنها رقم بزنید، پس با اخلاص و صداقت دروس را فراگرفته مصدر خدمت به نظام و مردم شوید. مولوی عتیق الله کریمی، رئیس تدارکات در سخنانش گفت، شما جوانان بهترین قشر جامعه افغانستان هستید و امروز پس از سپری نمودن یک امتحان شفاف، جذب شده اید. شما بدون واسطه و یا رشوه و هیچگونه وابستگی به کدام تحریک و حزب به اساس لیاقت و شایستگی تان در اینجا حضور دارید. چون قرار است در چوکات یک نظام اسلامی کار کنید، باید از قانون الهی (قرآن) و سنت پیامبر گرامی اسلام پیروی کنید و سیرت و صورت خود را به آنچه توصیه می شود آراسته سازید. بلال احمد احدی، آمر اکادمی ملی عواید و گمرکات با دعاییه ای مراسم را اختتام بخشید. قابل یادآوریست که دروس محصلان از تاریخ ۲۲ اسد آغاز و الی ۱۵ روز در اکادمی ملی عواید و گمرکات ادامه خواهد داشت.

فساد در ریاست خدمات مالیه دهندگان تقریباً به صفر رسیده است



ریاست خدمات مالیه دهندگان از سه ریاست قبلی (مالیه دهندگان بزرگ، متوسط و کوچک) مدغم گردیده به عنوان یکی از ریاست های کلیدی وزارت مالیه مسئولیت عرضه خدمات به مالیه دهندگان و جمع آوری عواید به خزانه دولت را به عهده دارد. هدف از ادغام این ادارات ارائه خدمات تحت یک مرکز واحد مالیاتی و تسریع روند کاری مالیه دهندگان می باشد. این ریاست همواره تلاش نموده تسهیلات و امکانات بیشتری را برای تسریع روند کاری مالیه دهندگان ایجاد نماید، از این رو تغییراتی را در سیستم بوجود آورده و ارائه اظهارنامه های مالیاتی را بشکل آنلاین تطبیق می نماید. عبدالقیوم نصیر، رئیس خدمات مالیه دهندگان می گوید، اکنون نیاز نیست مالیه دهندگان برای ارائه اظهارنامه های خویش در شعبات مالیاتی منتظر بمانند، آنها در هر جا که باشند می توانند اظهارنامه های مالیاتی خویش را بدون تلف کردن وقت به شکل آنلاین و ۲۴ ساعته ارائه دهند.

از سوی دیگر، ریاست خدمات مالیه دهندگان عزم راسخ برای محو فساد اداری داشته و دستآورد های روشنی در این راستا دارد. رئیس خدمات مالیه دهندگان می گوید، اکنون فساد اداری در این اداره مهم عوایدی تقریباً به صفر رسیده است، در حالیکه در دولت قبلی به یک اداره مفسد و بدنام معروف بود. در نتیجه تغییرات و اصلاحات بوجود آمده و مبارزه جدی با فساد اداری، سطح اطاعت پذیری مالیه دهندگان بیشتر گردیده و آنها به میل و اراده خویش جهت تصفیه مالیات شان به این اداره مراجعه می کنند. رئیس خدمات مالیه دهندگان می گوید، روزانه از ۱۰۰ الی ۵۰۰ نفر به این اداره جهت اخذ مکتوب تصفیه مالیاتی خویش مراجعه می کنند و الحمد الله همه از کارکرد این اداره راضی می باشند. علاوه بر این، ریاست مذکور به اهداف تعیین شده عوایدی از طرف رهبری امارت اسلامی افغانستان متعهد بوده و با تلاش های جدی توأم با شفافیت و صداقت عواید را به مراتب بالاتر از دوره قبلی جمع آوری نموده و به خزانه دولت سپرده است. قابل ذکر است که ریاست های مالیه دهندگان بزرگ، متوسط و کوچک پس از حاکمیت دوباره امارت اسلامی افغانستان تحت یک مرکز واحد مالیاتی مدغم و خدمات ارائه می کند.

شمنی SHTAMANAI اوونیزه


په مالي بنسټونو کي د عملياتي خطرونو پېژندنه!

استاد عبدالجبار وحدت

عملياتي خطرونه (operational Risk):

عملياتي خطر خورا تحليلي او مهم بحث دئ، چي بايد په پراخه کچه ئې تحليل او شننه وسي، دا خطر ټولي عملياتي چاري په ځان کي رانغاړي، معمولا د انساني تېروتنو څخه رامنځته کېږي. دا يو ډېر پراخ مفهوم لري، چي د افرادو، سيسټمونو او پروسو په اساس د کمپنۍ په عملياتو کي رامنځته کېږي. د عملياتي خطر اصطلاح د لومړي ځل لپاره د (۱۹۹۰) لسيزي په لومړيو کي په مالي خدماتو کي را څرګنده سوه، داسي هم ويلای سو، چي ټول خطرونه پرته له اعتباري او د بازار له خطر څخه عملياتي خطرونه دي، يا عملياتي خطرونه معمولا د اطلاعاتي سيستم او داخلي کنټرول له نيمګړتياوو څخه رامنځته کېدونکي دي، چي د غير منتظره زيانونو سبب کېږي. د بال کمېټه يا د ريسک د عملياتي خطر په تعريف کي حقوقي خطر هم اضافه کړی دئ، مګر ستراتيژيک او د شهرت خطر ئې له دې څخه ليري کړ او د عملياتي خطر تعريف ئې محدود او دقيق کړی دئ او عملياتي خطر د داخلي پروسيجرونو، سيستمونو ناسم جوړښت، د افرادو عدم کفايت او بهرنيو پېښو له املې رامنځته کېدونکي بولي. د Basel لومړنی قانون، چي د (بزل) په نوم هم يادېده د يادو کمېټو له خوا په (۱۹۸۸) کي ټولو بانکونو ته په واک کي ورکړل سو، چي د دې قانون محوري موضوع اعتباري خطرونه وو، مګر بانکونه، چي کله له عملياتي خطراتو (operational Risks) سره مخ سول؛ نو د (بازل) دوهم قانون هم رامنځته سو، چي عملياتي خطر ته ئې ځانګړې پاملرنه وکړه. دلته ځکه عملياتي خطر محوري موضوع سوه، چي بانکونو ته معمولا ګڼي ستونزي له همدې خطر څخه پېښېږي، د افغانستان د ځينو ډېوالي سوو مالي بنسټونو موضوعات که وڅېړو؛ نو د کريډيټ ريسک سربېره عملياتي خطر هم د يادو بنسټونو په مالي بحران کي رول درلود. په وروستيو کي ټکنالوژي ډېر زيات رشد وکړ، بانکونه په ټکنالوژيکي لحاظ ډېر پرمختللي سول، مګر د ټکنالوژي له ودي سره سم عملياتي خطر هم په زياته کچه، زيات او رامنځته سو؛ نو اړتيا دا سوه، چي بانکونه د عملياتي خطرونو د مديريت کولو لپاره په ياد نوم يو ځانګړی ډيپارټمنټ جوړ کړي. د بازل کمېټي ټول بانکونه په دې باندې مجبور کړل سول، چي د عملياتي خطرونو د مديريت او مهارولو لپاره يوه اندازه احتياطي پانګه بايد له خانه سره ولري.

د عملياتي خطر پېژندني لپاره لاندي شکل په نظر کي نيسو:



عملياتي خطر ولي او څه شي رامنځته کوي؟

مورد په تېرو کي په دې بحث کړی دئ، چي ټيکنالوژي له يوې خوا اسانتيا رامنځته کړه، مګر له بل لوري ئې د عملياتي خطرنو کچه نهايتاً لوړه کړه؛ په لاندي شکل کي مورد وينو، چي د عملياتي خطر په رامنځته کېدو کي افراد، بهرنی پېښي، ناسم ټيکنالوژيکي سيستمونه او پروسې فوق العاده رول لري، چي عملياتي خطرونه په شدت سره رامنځته کوي.



۱ـ اشخاص: معمولاً کار کوونکي د دې خطرنو په رامنځته کولو کي ښکېل وي، دوی ډېری وخت وظيفوي غفلت کوي، ناسم راپورونه ورکوي، غلا کوي او يا دې ته ورته نوري چاري تر سره کوي، چي هغه د دې خطر سبب ګرځي.

۲- ناسم ټيکنالوژيکي سيستمونه:


ټيکنالوژي د بانکي سيستم لپاره لويه لاسته راوړنه وه، مګر د سيستم خرابېدل، هيک کېدل يا سايبري ستونزي هغه څه دي، چي د عملياتي خطرونو کچه ئې نوره هم لوړه کړې ده.

۳ـ پاليسي او پروسې: ځيني وخت، ځيني هوکړه ليکونه، پاليسي او ځيني طرزالعملونه هم د دې سبب ګرځي، چي په بانکونو کي يا نورو مالي بنسټونو کي عملياتي خطرونه رامنځته کړي.

۴ـ بهرنی پېښي:


بهرنی پېښي يو بل مهم فکتور دئ، چي په مالي بنسټونو کي عملياتي خطرونه رامنځته کوي، ځکه ډېری وخت ځيني داسي واقعې رامنځته کېږي، چي هغه په بازار او بهروني چاپېريال کي وي او د سازمان په کنټرول او خوښه نه وي.

•دا خطرونه هم ځيني ډولونه لري، چي عبارت دي له:



د عملياتي خطرونو اهميت:

په وروستيو کلونو کي د عملياتي خطرونو اهميت د دوو دلايلو په اساس زيات سو: لومړی چي له فناوری نيمايي وده او همدارنګه د پانګي په بازار کي د ګډون کوونکو د اړيکو زياتوالی د نوي فناوری او ټيکنالوژی په مټ سازمانونو زيات پرمختګ هم وکړ او اسانتياوي ئې هم رامنځته کړې، مګر په علمياتي برخه کي ئې ځيني خطرونه هم له ځان سره راوړل مثلا: اتوماسين ډېر زيات سهولت رامنځته کړ د وخت د ضايع کېدو مخنيوی ئې وکړ، مګر ستونزه دا ده، چي د د ې سيستم په خرابېدو يا له کاره لوېدلو سره عملياتي خطر نهايت لوړېږي.



د عملياتي خطر مديريت:

پورته په عملياتي خطر باندي بحث وسو اوس ئې په مديريت بحث کوو، «د عملياتي خطر پېژندلو، ارزولو او اندازه کولو، تحليل او په مناسبه توګه د عملياتي خطر سره تعامل کولو پروسه ده او همدارنګه د څارني (د څارني او راپور ورکولو، او نورو په شمول) په دوامداره توګه د بدلون چاپېريال شرايطو (اقتصادي، ټولنيز، سياسي) سره سم څارنه کوي.

د دې خطر د مديريت پروسه هم د نورو خطرونو په څېر ده چي:

۱- پېژندنه ۲ - ارزونه ۳- راپور اخيستنه ۴- خطر ته ځواب (کمول يا کنټرول)

اعلانات داوطلبی

دعوت به داوطلبی

چهارشنبه ۱۸/۵/۱۴۰۲

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژهء(تدارک ۳۰ سی حلقه تایر و دو حلقه ویل برای کرین های گمرکات وزارت مالیه) دارای نمبر تشخیصه G/۱٤۰۲/MOF-REBID-۰۳٤ که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء می گردد بدست آرند.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۸/ سنبله/۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر می باشد.

تضمین آفر : به مبلغ ۱۲۰,۰۰۰ (یکصد وبیست هزار) افغانی صرف تضمین بانکی می باشد.

آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات،مشاوریت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲۴۵۸۴

چهارشنبه ۸/٦/۱۴۰۲

د کابل ولایت اړوند په (۱٦ مه) ناحیه کي د (۲۱٦٦) مترہ مربع ځمکي سره یو ځای د یو باب هنګر د مزایدې خبرتیا

شنبه ۲۱/۵/۱۴۰۲

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چي د کابل ولایت اړوند (۱٦مه) ناحیه د نساجي بګرامي محوطې په داخل کي د (۲۱٦٦) مترہ مربع ځمکي سره یو ځای یو باب هنګر د مزایدې لپاره اعلان ته و سپاري چي لومړنی میاشتنی کرایه ئې (۴۹۵۰۰) افغانی ده. ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چي غواړي نوموړی ملکیت د ذکر سوي مبلغ څخه په لوړه کرایه ونیسي کولای سي، چي خپل غوښتلیکونه د اعلان د خپرېدو له نېټې څخه وروسته د (۷) ورځو په موده کي د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطانه د اسنادو له ارزوني او لومړني قیمت ته په کتو تر لاسه کړي.

سه‌شنبه ۲۸/٦/۱۴۰۲

د کابل ولایت اړوند په (۷ مه) ناحیه کي د (٦) جریبه او (٦) بسوي ځمکي د داوطلبی خبرتیا

شنبه ۲۱/۵/۱۴۰۲

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چي د کابل ولایت اړوند (۷ مه) ناحیه کي (٦) جریبه او (٦) بسوي دولتي ځمکه د داوطلبی له لاري اعلان ته و سپاري. ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چي غواړي نوموړی ملکیت په کرایه ونیسي کولای سي، چي خپل غوښتلیکونه د اعلان د خپرېدو له نېټې څخه وروسته د (۲۱) ورځو په موده کي د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطانه د اسنادو له ارزوني او لومړني قیمت ته په کتو تر لاسه کړي.

شنبه ۱۱/٦/۱۴۰۲

دعوت به داوطلبی

چهارشنبه ۱۸/۵/۱۴۰۲

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تادر داوطلبی پروژهء(تدارک ۱۰۰ پایه مخابره و ۱۰۰ عدد بطری قطعه محافظت گمرگات وزارت مالیه) دارای نمبر تشخیصه G/۱٤۰۲/MOF-۰٤۹- که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۸/ سنبله/۱٤۰۲ ساعت ۰۲:۰۰ بعد از ظهر میباشد.

تضمین آفر : به مبلغ ٤۰,۰۰۰ (چهل هزار) افغانی صرف تضمین بانکی میباشد.

آدرس :وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات،مشاوریت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲۴۵۸۴

چهارشنبه ۸/٦/۱۴۰۲

د کابل نړیوال هوایي ډګر د ګمرک کارکوونکو یونیفورم د تهیې او تدارک د داوطلبی خبرتیا

د افغانستان اسلامي امارت د مالیې وزارت پر شرایطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چي (د کابل نړیوال هوایي ډګر د ګمرک کارکوونکو د یونیفورم تدارک) چي تشخیصیه نمبر ئې(G/۱٤۰۲/MOF-۰٤۷) دئ او د داخلي خلاصې داوطلبی په بڼه تر سره کېږي، برخه واخلي؛ نو شرطپانه ئې په پښتو او دری ژبه د فلش یا میموري له لاري د شرطپاني له شرایطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم له لاندي آدرسونو څخه ترلاسه کړئ.

ځای: د مالیې وزارت، دوهم پوړ، د تدارکاتو ریاست – د تدارکاتو مشاوریت – پښتونستان واټ.

له داوطلبی څخه مخکي جلسه: نېټه ۲۹ / اسد/ ۱۴۰۲، وخت: د سهار ۱۰:۰۰ بجي مخکي له غرمې د آفرګشایی ټاکلې نېټه: د سنبلې ۹ مه/ ۱۴۰۲ د سهار ۱۰:۰۰ بجي مخکي له غرمې د آفر تضمین: چي ۳۰۰۰۰ (دېرش زره) افغانی ئې یوازي بانکي تضمین دئ. د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦

شتمنی SHTAMANAI

اوونیزه

د امتیاز خاوند: د مالیې وزارت

مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل

مرستیال: حبیب الله خُبیب

د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ویبپاڼه: mof.gov.af

ټویټر: @ afghanistanmof

یوټیوب: afghanistan mof

شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)

صادرات اقلام عمده در هفته گذشته از گمرکات



شماره	جنس	وزن به تن	ارزش گمرکی به میلیون افغانی	کشور
۱	زغال سنگ	۲۸،۸۹٦	۳۸۲	پاکستان و هند
۲	بادنجان رومی	۱۱،۴۰۱	۱٦۲	پاکستان
۳	انگور تازه	۴،۸۰٦	۱۹٦	پاکستان، قزاقستان و هند
۴	بادرنگ	۲،۸۷۲	۳۱	پاکستان
۵	سنگ تالک	۲،۵۵۲	۱۲	ازبکستان، ایران و پاکستان
٦	پخته وطنی	۱،۵۷۳	۱٤۷	پاکستان و ایران
۷	کنجاره سویابین	۱،۳٤۳	٤۲	پاکستان
۸	زردآلو	۱،۳۱۰	۵۵	پاکستان، قزاقستان و هند
۹	خربوزه	۱،۲٦۳	۲۹	پاکستان و هند
۱۰	سنگ کرومایت	۱،۱۵٦	۱۳	پاکستان

تعداد محموله و ارزش گمرکی مجموعی از تاریخ ۷ الی ۱۳ اسد به اساس سیستم اسیکودا


تعداد محموله	ارزش گمرکی به میلیون افغانی
۲۸۵۲	۲۳۹۹

د هوټلونو دولتي شرکت له تصفیې او ارزشګذاری څخه وروسته د دغه شرکت پانګه 7.5 میلیارډه افغانیو ته لوړه سوې ده.

د شرکت د پانګې زیاتوالی د حکومت په کچه یوه لویه او د پام وړ لاسته راوړنه ګڼل کیږي.



د کورنۍ پلټنې لوی رئیس پنجشېر ولایت ته سفر وکړ



د ولایتي سفرونو په لړ کې، دا ځل د مالیې وزارت د کورنۍ پلټنې لوی رئیس ښاغلي انجنیر عبداللطیف خالد په مشرۍ یوه پلاوي، پنجشیر ولایت ته د پلټنې سپارښتنو د تطبیق او تعقیب په موخه سفر وکړ. د سفر په ترڅ کې د کورنۍ پلټنې لوی رئیس او مل پلاوي د پنجشیر ولایت له مستوفیت څخه لیدنه وکړه او د تېرو پلټنو په ترڅ کې، د پلټونکو له لورې د ورکړل سوو اصلاحي سپارښتنو تطبیق ئې تعقیب کړ او له اړونده مسؤلینو څخه ئې وغوښتل، چې د پلټنې د مؤثریت او چارو د سمون په موخه د پلټنې سپارښتنې په خپله ټاکلې موده کې تطبیق او راپور ئې له مرکز سره شریک کړي. ښاغلي خالد د بېلابیلو شعبو د کاري پروسو له لیدو څخه وروسته، د یاد مستوفیت مسؤلینو او کارکوونکو ته لازمې لارښوونې وکړې، د دوی ستونزې او غوښتنې ئې واورېدې او ژمنه ئې وکړه، چې د حل په موخه به ئې د مالیې وزارت له مشرتابه سره په نږدې راتلونکي کې شریکې کړي.


An evaluation meeting was convened regarding the Intercontinental State-owned Corporation



On behalf of the leadership of the supreme leader of IEA, Amir al-Momineen (may Allah bless him and grant him peace) In order to evaluate the situation of state-owned corporations, the evaluation meeting of the said corporation was held in the Ministry of Finance (MoF) between the members of the committee appointed under the leadership of Maulawi Ahmad Jan Bilal and the officials of Intercontinental State-owned Corporation. In this meeting, comprehensive information was provided regarding the general situation, administrative structure, services, financial situation and activities of Intercontinental State-owned Corporation of the MoF and a series of existing problems and limitations were additionally mentioned in the meeting. Suggestions and solutions were presented by the participants and experts to solve the problems and improve the situation of the mentioned corporation. In the end, the members of the committee insisted that the unnecessary expenses of the said corporation should be accurately evaluated and necessary actions should be taken for the prevention of needless spending.

Evaluation meeting of Water Supply & Sewage State-owned Corporations was held

On behalf of the leadership of the supreme leader of IEA, Amir al-Momineen (may Allah bless him and protect him) In order to evaluate the situation of state-owned corporations (SOCs), the evaluation meeting of the said corporation was convened in the Ministry of Finance between the members of the committee appointed under the leadership of Maulawi Ahmad Jan Bilal and the officials of Water Supply & Sewage SOCs. Initially general information was provided regarding the organizational structure, activities, services, important projects, designs and plans related to the Water Supply & Sewage SOCs, and the problems and challenges facing the corporations affairs were mentioned by the relevant experts and committee members in order to improve the affairs of



the corporation and find out appropriate ways to solve the problems have been proposed. In general, the situation of the said corporation was good and it was emphasized that the existing problems should be properly addressed, so that the corporation can implement its future plans and important projects well, with which it will be a timely response in nation-wide to the problems of the people in terms of lack of clean water.

د شتمنی اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د مالیې وزارت سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک magazine@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.